## نا تشريفاتي عقد

هغه عقد دی چې پکښې د لفظونو، تشريفاتو او ځانګړو اشخاصو شتون ته اړتيا نه وي. دری:[عقد غیر تشریفاتی]

## نا رښتينې انا

هغه انا ده چې د نا رښتينې نيکه په واسطه ميت ته منسوبيږي. (نا رښتيني نيکه ته دې مراجعه وشي). دری:[جده غیر صحیح]

## نا رښتينی نیکه (د مور پلار)

هغه نيکه دی چې د مونث په واسطه يې ميت ته انتساب موندلای وي. دری:[جد غیر صحیح(پدر مادری)]

## نا ريښتينې ډوب

د قتل د جرم د پټولو او د جرم د رسېدنې د مراجعو په ذهنونو کې د انحراف د رامنځته کولو په مقصد د جسد ډوبول دي. دری:[ غرق کاذب]

## نا عادي استعمال

د عاريت په عقد کې د يو شي استعمال ته وانې په هغې طريقې باندې چې د خلکو په مينځ کې معمول نه وي. دری: [استعمال ناعادی]

## نا عمدي ضرب او جرح

د سر غړونې له امله ضرب او جرحه ده چې د بې مهارتی، بې احتياطی، نه پاملرنې او غفلت په پايله کې رامنځته شوي وي. دری:[ضرب و جرح غیر عمدی]

## نا عيني ملکيت

هغه ملکيت دی چې ارزښت يې په سملاسي توګه د ارزونې په واسطه لاس ته رانشي. دری: [ملکیت غیر عینی]

## نا فعاله شريك

هغه شخص دی چې په يوه انتفاعي مؤسسه کې چې د يوه شرکت په توګه جوړه شوی، شريك او د خپلې شتمنۍ برخه ورکوي خو د شرکت په اداره کې کوم لوی مسووليت په غاړه نه اخلي. دری: [شریک غیر فعال]

## نا قانونه اعتصاب

د کارګرانو د اتحاديې د کار درول دي بيله مؤجه دلايلو څخه. دری: [اعتصاب غیر قانونی]

## نا لازم نافذ عقد

هغه عقد دی چې په طبيعي ډول د عقد د دواړو خواوو له ډلې څخه د يوې او يا هم د عقد د دواړو خواوو د الزام موجب نشي او يا هم داچې د عقد يوه خوا د فسخ حق ولري. دری:[عقد نافذ غیر لازم]

## نا لازمه بيع

هغه بيع ده چې پکې د خيار حق شتون ولري. دری: [بیع غیر لازم]

## نا مترقبه حالات

هغو حالاتو ته ويل کېږي چې د افرادو، مؤسساتو او دولت تر ارادې په لوړه کچه پېښ شي او مادي پايلې ولري. دری:[حالات غیر مترقبه]

## نا مستقيمې ټاکنې

هغه ډول ټاکنې دي چې خلك د خپلو ټاکل شويو استازو په واسطه خپل کانديد ټاکي. دری: [انتخابات غیر مستقیم]

## نا مشروع شرط

هغه شرط دی چې د قانون او شريعت د حکمونو پرخلاف وي. (شرط ته دې رجوع وشي). دری:[شرط نا مشروع]

## نا مشروع ماشوم
هغه ماشوم دی چې له نامشروع ازدواج څخه منځته راغلی وي. دری:[طفل نامشروع]

## نا مشروعه اړیکه
د ښځې او نر ترمينځ هغه غير قانوني او نا مشروعه اړیکه ده چې د هغو ترمينځ د زوجيت اړيکه موجوده نه وي.
دری:[رابطه نامشروع]

## نا مشروعه پانګه او اموال
له هغې پانګې څخه عبارت ده چې د جرم د ارتکاب له امله يا د نورو غير مشروع لارو څخه لاسته راوړل شوی وي. دری:[اموال و دارایی نامشروع]

## نا مشروعه ثروت
د هغو مالونو او پانګې څخه عبارت دی چې د جرم د ارتکاب له لیارې لاس ته راغلی وي.
دری:[ثروت نامشروع]

## نا معلومه ملك
هغه ملك دی چې ځانګړی خاوندیې معلوم نه وي.
دری:[مجهول المالک]

## نا مغلظ یمین
هغه یمین دی چې قاضي په تر ټولو لنډو عبارتونو سوګند (قسم) مقابل لوري ته القاء کوي.
دری: [یمین غیر مغلظ]

## نا مناسبې پیسی
هغه بانکنوټونه او سکوك دي چې د قانون له حکمونو سره سم له دوران او چلند څخه اېستل کیږي چې د شکل او وزن له مخې څخه ناقصې وي.
دری:[ پول نامناسب (پول مندرس)]

## نا منظم خط
له هغه خط څخه عبارت دی چې مستقيم نه وي او منحني يا منکسر خط ته ورته وي. دری: [خط نامنظم]

## نا منعقده بیع
هغه بیعه ده چې تنفیذیی یو واك لرونکی شخص پورې موقوفه وي. (بیع ته دي مراجعه وشي).
دری:[بیع غیر منعقد]

## نا منقول مشاع مال
مشاع مال دی پرته له دې چې د هغه په ماهيت کې بدلون رامنځته شي، له يوه ځای څخه بل ځای ته د لیږدوني رالیږدونې وړتيا ونلري.
دری:[مال مشاع غیر منقول]

## نا موافق لوی پورونه
هغه پورونه دي چې د قانوني معيارونو او د وخت په تیریدو د پانګې او د ترلو پورووړو د اړيکو د رامنځ ته کیدو سبب شي او له ټاکلي حد څخه پورونه تجاوز وکړي. دری: [قروض بزرگ نا موافق]

## ناپلوي
د يو هېواد سياسي، پوځي او حقوقي وضعيت دی چې له مخې يې د نورو هېوادونو ترمنځ د هر راز شخړې او جګړې په صورت کې له هر ډول پلوي څخه ډډه وکړي. دری: [بیطرفی]

## ناحقه شاهد
هغه شخص دی چې د واقعيت پرخلاف د عدلي يا قضايي مراجعو په وړاندې شهادت ورکړي.
دری: [شاهد ناحق]

## ناحقه قسم
که په يوه قضائي دعوې کې يو طرف ته سوګند وړاندې شي او دا لوری په ناحقه د قضاء په وړاندې قسم وکړي ناحقه قسم بلل کیږي. دری: [قسم ناحق]

## ناحیه
د ښار په محدوده کې شامله او ټاکل شوې ساحه ده چې د اړوندو مراجعو له خوا د پرمختيا په نظر کې نیولو سره ټاکل کیږي. دری:[ناحیه]

## ناخب
هغه صفت دی چې شخص د قانون او شرع له مخې د ټاکلو اهلیت ولري. دری:[ناخب]

## ناریه زخمونه
له ټولو هغو زخمونو څخه عبارت دی چې د مختلفو مرمیو له کبله یا د درندو سلاح ګانو له ټوټو څخه چې پر بدن اصابت کوي مینځ ته راځي. دری: [جروحات ناریه]

## ناریه وسله
هغه وسله ده چې د باروتو د سوزېدو په واسطه د مرمی یا ګولی د باندې لیږلو توان ولري. دری:[سلاح ناریه]

## ناسمه دفع
هغه دفع ده چې د هغې په واسطه دعوی له منځه نه ځي.
دری: [دفع غیر صحیح]

## ناشریك دین
دین د سبب د توپیر په صورت کې ناشریک ګڼل کیږي.
دری:[دین غیر مشترک]

## ناشزه
له هغې ښځې څخه عبارت ده چې د زوجیت امورو ته اطاعت ونلري. دری: [ناشزه]

## ناظر
هغه شخص دی چې د یوه شخص په استازي توب یو عمل تر پاملرنې لاندې نیسي او د هغه عمل سموالی او ناسموالی د هغې مقیاس له مخې چې تعهد شوی وي سنجوي. او د قانوني واک خاوند وي او له خپلو اجراآتو څخه د حق خاوند خبر کړي. دری:[ناظر]

## نافذ
هغه صفت ته ویل کیږي چې په هر عقد او یا تصرف کې په فردي اجازې پورې اړه ونلري. دری:[نافذ]

## نافذ عقد
هغه عقد دی چې د هغه ټول شرعي او قانوني ارکان او شرطونه پوره وي او په محض انعقاد سره ئی، ټول حقوقي آثار مرتب شي. دری: [عقد نافذ]

## نافذه بیع
هغه بیعه ده چې د کوم بل چا په حق پورې اړونده نه وي. دری:[بیع نافذ]

## نافع
هغه صفت دی چې په هر یو شئ او یا تصرف کې ګټور وي. دری:[نافع]

## نافع مصارف
له هغو مصارفو څخه عبارت دی چې په نتیجه کې د یو ملك او یا یوشي د قیمت د زیاتوالي لامل ګرځي.
دری: [مصارف نافع]

## ناقص اخیستل
له هغه ډول اخیستلو څخه عبارت دی چې غل (سارق) د بل چا مملوکه مال د محرز ځای څخه اخلي اما د هغې په انتقال له هغه ځای څخه نه بریالی کیږی.
دری: [اخذ ناقص]

## ناقص حیازت
هغه حیازت چې شخص د سند پر اساس پر شی باندې ذوالید وي اما د ملکیت حق پرې نلري.
دری:[حیازت ناقص]

## ناقصه اکراه
هغه اکراه ده چې پکښې د ځاني او یا مالي لوی خطر په اړوند کوم تهدید شتون ونلري. دری:[اکراه ناقص]

## ناقصه دفع
ناقصه دفع د مدافعې له هغې ډول څخه عبارت ده چې د هغې په واسطه دعوی له منځه نه ځي بلکې په تأخیر لویږي. دری: [دفع ناقص]

### ناقل
هغه شخص دی چې دولت د اصلي استوګنځي له ځای پرته په بل ځای کې ځمکه ورکړي او هلته میشت شي.
دری:[ناقل]

### نامشروع عمل
هغه عمل دی چې د قانون او شریعت د حکمونو پرخلاف وي. دری:[عمل نامشروع]

### ناموس
هغه معنوي ارزښتونه دي چې د انساني او فامیلي عفت په حریم پورې اړه ولري. دری:[ناموس]

### ناوړه اغیزې
هغه بالفعل یا بالقوه اغیزې دي چې اوس مهال یا په راتلونکي کې انساني چاپېریال او د انسان روغتیا ته ضرر رسوي چې د بشري ټولنو توانمندي ته د روغتیائي امکاناتو د برابرولو، اقتصادي او فرهنګي ارزښتونو ته د زیان اړولو سبب کیږي. دری: [تأثیر سوء]

### ناوړه انګیزه
هغه انګېزه ده چې د دود او قانون له مخې نا مشروع وي.
(انګیزې ته دې مراجعه وشي). دری:[انګیزهٔ دنی]

### نایب
هغه شخص چې د بل چا په نوم او حساب امر یا امرونه سرته رسوي، نایب دی. دری:[نایب]

### نایم
هغه شخص چې د خوب په حالت کې وي او په دې حالت کې د هغه کومې خبرې یا اعمال چې ورځینې ترسره کیږي، حقوقي نتایج نلري. دری: [نایم]

### نباش
هغه څوک چې د مړي له ښخېدو وروسته کفن، د قبر په سوری کولو سره را باسي. دری: [نباش]

### نبش
د قبر د سوري کولو له لارې د مړي د کفن غلا کول دي. دری:[نبش]

### نرخ
د یوه قیمت لرونکي سند، سهم، مال یا شي قیمت او ارزښت دی چې پخوا ټاکل شوی وي. دری: [نرخ]

### نړیوال پولیس
هغه پولیس چې جرمونو ته د رسېدنې په اړوند تر پولې پورې غاړه له واک څخه برخمن دی.
دری: [ پولیس بین المللی]

### نړیوال حکمیت
د هغو منازعاتو حل او فصل دی چې د دوه یا زیاتو هېوادونو او نورو حکمي شخصیتونو ترمنځ او د یوې نړیوالې مرجع چې د یو قرارداد په بنیاد پخوا ټاکل شوي وي، صورت ونیسي. دری: [حکمیت بین المللی]

### نړیوال قاضي
هغه قاضي دی چې په نړیوالو رسمي مراجعو کې د نړیوالو اصولو او تعاملاتو پربنسټ په قضاوت لاس پورې کوي. دری: [قاضی بین المللی]

### نسبي استحاله
هغه استحاله ده چې مستحیل والی یې د هغه شخص له نه مهارت څخه نشأت کړی وي چې انجامول یې وجیبه وي. دری: [استحاله نسبی]

### نسبي بطلان
هغه بطلان دی چې د هغه تاوان خصوصي نظم ته رسیږي او یوازې متضرر له محکمې څخه د بطلان غوښتنه کولای شي. دری: [بطلان نسبی]

## نسبي حرمت
له هغه ډول حرمت څخه عبارت دی چې له بل چا سره د نسب له لورې د یوه شخص له اړیکې څخه منځته راځي.
دری:[حرمت نسبی]

## نسبي عديم الاهليت
هغه شخص دی چې ځینې عقود او معاملات نشي ترسره کولای. دری: [عدم الاهلیت نسبی]

## نسبي عصبه
هغه اقارب دي چې د نسب له لوري له میت سره اړیکه ولري. دری:[عصبه نسبی]

## نسبي نقدي جزاء
هغه جزاء چې د هغې اندازه د خاص قانوني واحد پر بنسټ محاسبه کیږي. دری:[ جزای نقدی نسبی]

## نسخ
د پخوانی حکم ترک یا توقف او د هغه پر ځای د نوي حکم منځ ته راوړل دي. دری: [نسخ]

## نسيه بيع
هغه بیعه ده چې په هغې کې د مبیعې د پیسو د ورکړې لپاره نېټه ټاکلی شي. دری:[بیع نسیه]

## نشر
د قانون له احکامو سره سم د نهایي شوې مصوبې د اعلان خپرولو څخه عبارت دی په هغو خپرونو کې چې له پخوا ټاکل شوي وي. دری: [نشر]

## نصف
د میراث یو ځانګړی سهم چې شخص د هغه په نتیجه کې د خپل مورث د متروکې دینمایي مستحق ګرځي.
دری: نصف]

## نضج
هغه پوخوالی چې په میوو او زراعتي محصولاتو کې مینځ ته راځي او حقوقي ارزښت ولري. دری: [نضج]

## نظار هيأت
هغه کسان چې د شرکت او مدیره هیئت د چارو د څېړنې لپاره ټاکل کیږي. دری: [هیأت نظار]

## نظارت
د واکمنو چارواکو لخوا د قانوني نصوصو د تطبیق د بهیر څارنه ده. دری:[نظارت]

## نظارتي موافقت نامه
هغه رسمي موافقې دي چې د مرکزي بانک او بهرنی اسعارو د صراف ترمنځ د هر ډول سرغړونو او نا مصئونه تجاربو د مخنیوي په منظور وي.
دری:[موافقت نامه نظارتی]

## نظامي جرمونه
له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د هغو ارتکاب صرف د نظامي افرادو او منسوبینو له خوا تر سره کیږي.
دری:[جرایم نظامی]

## نظامي منسوب
د افسر او اجیر په شمول هغه شخص چې د وسله والو ځواکونو په یوه قطعه کې دنده سرته رسوي.
دری: [منسوب نظامی]

## نعل ډوله خطونه
له هغو خطونو څخه عبارت دی چې یو خط خپل مسیرته تغییر ورکوي او بیا پر خپل مخ راګرځي او د یوه نعل شکل ځانته غوره کوي. دری: [خطوط نعل مانند]

## نفع
په پیسو کې زیاتوالي ته وایي چې د ربح په معنی هم کارول کیږي. دری: [نفع]

## نفقه
د شرعي او يا هم قانون سره سم مستحق ته د خوراکي توکو، کاليو او د کور د نورو اړوندو څيزونو برابرولو ته نفقه وايي. دری:[نفقه]

## نفوس
هغه اندازه وګړي دي چې په يوه ټاکلي خاوره، ښار، کلي يا هېواد او يا په مجموع کې په نړۍ کې ژوند کوي. دری: [نفوس]

## نقده شتمني
هغې شتمنۍ ته ويل کېږي چې نقده وي او يا داچې په آسانۍ سره په نقدو تبادله شي. دری: [دارایی نقدی]

## نقدي تسليمي
د چک، پيسې او نور مالي اسناد چې د قانون د حکمونو سره سم ورکړې وسيله ګڼل شوی وي.
دری:[سپرده های نقدی]

## نقص يسير
په يو شي کې هغه نقصان او کموالی دی چې په هېڅ صورت کې د ګټې د حاصل د کموالي سبب نشي.
دری:[نقص يسير]

## نقصان حجب
د بل شخص د شتوالي له امله له لوړې برخې څخه ټيټې برخې ته د وارث لېږدونه ده. (حجب ته دې مراجعه وشي). دری:[حجب نقصان]

## نقود
د هغو پيسو، سکو، طلا او سپينو زرو ټوليزه ده چې د سکې پرمخ حک شوي وي. دری: [نقود]

## نکاح
نکاح هغه عقد دی چې په دوامداره او استمراري ډول يو له بل څخه د ښځې او مېړه د استمتاع حلالېدل افاده کوي. دری:[نکاح]

## نکاحنامه
نکاحنامه هغه رسمي سند دی چې د نکاح عقد پکښې په مفصله توګه ليکل شوی وي. دری:[نکاحنامه]

## نکول (انکار)
له لوړې (يمين) څخه انکار کولوته د محکمې په وړاندې ويل کېږي. دری: [نکول]

## نمونه
د مال هغه برخه چې د پېژندنې او د بيعې د عقد د تړلو په مقصد کارول کېږي. دری: [نمونه]

## نوبتي کار
هغه کار دی چې د يوې ورځې په اوږدو کې چې اکثره مهال يې (اته) ساعته وي تنظيموي. (کار ته دې مراجعه وشي). دری: [کار نوبتی]

## نوټ بانک
عبارت له هغو کاغذي پيسو څخه دی چې د نقودو او فلزي پيسو په ځای د چلند وړ وي. دری: [نوت بانکی]

## نوې کتنه
د نويو دلايلو د څرګندېدو پر بنسټ د محکمو د قطعي او نهائي حکمونو بيا څېړل دي. دری: [ تجديد نظر]

## نه تېرېدونکی جرم
هغه جرم چې عمومي اړخ ولري او د شکايت کوونکي ګرځېدل د هغه د تعقيب د ودرېدو سبب ونه ګرځي.
دری: [جرم غير قابل گذشت]

## نه مصرف کېدونکی شیان
هغه شیان چې کولای شو له هغوی څخه پرته له دې چې منهدم او له منځه لاړ شي، کار واخلو.
دری: [اشیای مصرف نشدنی]

## نهایي تصرف
له هغه تصرف څخه عبارت دی چې د تصرف د موضوع په ماهیت کې ئې تغییرات مینځ ته راوړي وي.
دری: [تصرف نهایی]

## نهر
کندل شوی او یا طبیعي مسیر چې زراعتي او نورو املاکوته له سیند څخه د اوبو د رسولو په موخه وي.
دری: [نهر]

## نیول
د متهم یا مظنون شخص له نیولو څخه عبارت دی چې د قانون له حکمونو سره سم د هغو اشخاصو په واسطه چې قانون ورته د نیولو صلاحیت ورکړی وی.
دری: [گرفتاری]

## نېغ په نېغه ټاکنې
هغه ډول ټاکنې دي چې خلك نېغ په نېغه پکې ګډون کوي او د خپلې خوښې کاندید ټاکي.
دری: [انتخابات مستقیم]

## نیابت
هغه حقوقي عمل دی چې د هغه په سبب یو شخص د بل شخص او اشخاصو په نوم او حساب عمل یا اعمال سر ته ورسوي.
دری:[نیابت]

## نیازمند کوچنی (اړ کوچنی)
پر هغه کوچني اطلاق کیږي چې د هغه جسمي او روحي سلامتیا او ګټې له خطر سره مخامخ وي او په دې سبب د ذیصلاح ارګانونو له خوا یې مراقبت او ساتنه وشي.
دری:[طفل نیازمند]

## نیت
د شخص له هغه باطني قصد څخه عبارت دی چې د هغه شتون د ځینو چارو د احکامو د تنفیذ لپاره حتمي وي.
دری: [نهایت]

## نیمګړی سیالي
هغه حالات دي چې په هغو کې د کامله رقابت شرطونه موجود نه وي.
دری: [رقابت ناقص]